پوهندوی آصف بهاند ۲۰۱۳/۰٦/۱۷

# او لا ګلونه سوځي
## (بيا هم افغان ميرمني اود هغوی د تريخ ژوند دردونکی انځور)

« ښځه د نارينه نيمه برخه جوړوي،څکه نارينه تل  دخپلي نيمي برخي په جوړولوپسي ګرځي اوپيدا کوي يې » ( افلاطون )

«اولا ګلونه سوځي» د هغه نوي چاپ شوي کتاب نوم دی چي د افغانستان د مظلومو ښځو د تريخ ژوند تأريخ او زوريدو بيلابيل اړخونه روښانه کوي اوځای ځای مستند دلايل هم ورته راوړل کيږي. دا اثر د ښاغلي ابراهيم نعيمي د کلونوخيرنو، پوښتنو، سفرونو او خولوتويولوپايله ده.

د کتاب پيژندنه:
د کتاب نوم: او لا ګلونه سوځي
ليکوال: محمدابراهيم نعيمي
د چاپ کال:۲۰۱۲زکال ( ۱۳۹۱لمريزکال)
د چاپ ځای: د دانش خپرندويي ټولني تخنيکي څانګه - پيښور ... »
د کتاب ليکوال د کتاب د اهدا په برخه کي د کتاب ټول پيغام داسي راټول کړی دی:
ښځوته اهدا،
هغوګلانوته چي اوس هم په بل کړای شوي اورکي سوځي!
د کتاب په اهدا کي دليکوال له پيغام نه داسي ښکاري چي دی ښځي ته، د ښځي مقام اوپه ټولنيزژوند کي د هغي رول ته څومره احترام قايل دی او د کتاب له ژوري لوستني نه دا ښکاري چي ليکوال په دې عقيده دی چي:
ښځه مور ده،
ښځه د ژوند ملګري ده،
ښځه د ټولنيز ژوند نيمايي برخه ده،
اوپه ځای کي ښځه د نارينه لاس نيونکي اومرسته کوونکی ده.
سره له دې چي په افغانستان کي د ښځو پرژوند کتابونه اومقالي ليکلي شوي دي، بحثونه اوخبري ورباندی شوي دي؛خو زه فکرکوم چي دا موضوع هيڅکله هم نه زړيږي اوهرکله بايد خبرې ورباندې وشي او د نوي وخت دنويونظرياتو، پرمختګونو او نويولاس ته راغلو اسنادو په رڼا کي وڅيړل شي.
ديوي ټولني له هرليکلي هنرنه مخکي دهغې ټولني فوکلور مخکي رامنځ ته شوی وي.که په پخوا زمانوکي د ښځو د ژوند په څرنګوالي پسي څوک ګرځي،نو د هغي ټولني فولکلورته دې سر وربښکاره کړي، اوکه څوک غواړي د يوې افغان ميرمني د ژونداصلي څيره وګوري، دافغانستان فولکلور دې ولولي، پښتولنډيوته دې سروربښکاره کړي چي په خپله د لنډيو ترنيمايي ډيره برخه نه يوازې د ښځوپه باب ده، بلکي د ښځوله خوا تخليق شوی هم دي. دا ديوې افغاني پيغلې غږدی:

چيرې پناه شوې په غــم ورکه          ما په اوښانو بدلوې، تا غرقوينه

د پښتو ادبياتو په تأريخ کي ترټولوپخوانی شخص چي په شعوري ډول يې د ښځو په باره کي خپل نظرڅرګند کړی دی، هغه خوشال خان خټک دی. ده د ښځوپه باب يې په خپلوشعرونو او آثاروکي کله ناکله خبری کړي دي، ده دموضوع د مهم والي له نظره د ښځوپه باب د ښځي د پيژندني په برخه کي يوه ښپيره قصيده ويلي ده چي دري ځلويښت (۴۳) بيتونه لري چي د ښځو د جمال اوکمال بيان په کي شوی دی.(۱،۴۵۸ـ ۴٦۱ مخونه)


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په خير و لولـئ

وروسته له قصيدي نه يي په خپل مشهوراثردستارنامه کي هم د ښځو په باب خبري کړي دي، داسي څه يي ويلي دي چي دسل ګونوکلونوپه تيريدوسره اوس هم علمي بڼه لري، داسي بحث يي کړی چي د اوسنی زماني له غوښتنوسره ډيرښه اړخ لګولی شي. خوشال خپل مشهور اثردستار نامه دهند د رنتبورپه زندان کي ليکلی دی. يوه مقدمه، شل هنرونه، شل خصلتونه اويوه خاتمه لري. زه ورته د هغه وخت د پښتنواساسي قانون وايم.
د دستارنامي په دولسم(۱۲) او ديارلسم (۱۳) هنرونو(۲، ۱۰۴- ۱۲۲مخونه)کي خوشال خان خپل نظريات د ښځي په باب بيان کړي دي.خوشال د دستارنامي د دولسم هنر په پيل کي د ښځي په باره کي، چي د افغانانود اوسنيوتودو جنجالونو يوه برخه ده، داسي خپل نظرڅرګند کړی:
« نکاح روا ده، دوه، دري، څلور؛اما بهتره يوه ده.» (۲،۱۰۴ مخ)؛اود دي بحث ترپايه دی د دلايلوپه وړاندي کولوسره د يوې ښځي په درلودلوباندي ټينګارکوي اود ډيروښځو کول يوحبطه اوبې فايدې کارګڼي:

چې ميرمني په کې دوه شي هـغـه خــونــه حبـطـه شــي
(۲،۱۰۶مخ)

اوس هم زموږ د ټولني ډيره سلنه خلک په دې نه پوهيږي چي ښځي سره څه ډول چلند وکړي، په تيره له حامله ښځي سره. خوشحال لا په هغه وخت کي د اوس وخت نظريات له ښځوسره په چلند کي مطرح کړي و. دی په ټينګار سره وايي چي بارداري ميرمني سره بايد څه ډول چلند وشي. خوشحال د دستارنامي په ديارلسم هنرکي داسي ويلي دي:
«اولاد که زوی وي، يا لور،خوچي عورتينه په فرزند ډکه شي، نوريي تربيت لازم شي...»(۲ ،۱۲۲مخ)
بيا به په ضمني ډول چا څه ليکلي وي، چي دومره د چا پام نه ورته اوړي، خوبل تن چي په شعوري ډول دښځوپادونه کړې ده، هغه دشاه حسين هوتک د دربار منشي، محمد هوتک دی چي پټه خزانه يي ليکلې ده. محمد هوتک دا اثرپه۱۱۴۱- ۱۱۴۲ (۱۷۲۸ـ ۱۷۲۹) کال کي ليکلی دی. محمدهوتک دپټي خزانې په تذکره کي د پښتني ادب شپږ نامداره ميرمني ( نازوتوخي، حليمه حافظه، بي بي نيکبخته، بي بي زينب، زرغونه، رابعه)معرفي کړي دي.(۳، ۱۷۶ـ ۱۹۴مخونه)
وروسته بيا معاصرينو د شعرونوپه مجموعوکي په جلا کتابونواو ادبي تذکروکي د ښځودژوند، بيوګرافی، هنري ـ ټولنيزو فعاليتونو او نورو کارونو باندې رڼا اچولي ده، لکه د بينوا اوسني ليکوال ، پښتني ميرمني اونور.
وروسته له دي نه که د ښځوپه باب د ليکوالواوشاعرانو په آثارو کي له خورو ورو يادوونوڅخه تير شو، نوپه شلمه پيړی کي د امان الله خان په وخت کي د ښځود مبارزو، ټولنيزوفعاليتونو اودښځو د نهضت پيل ته رسيږو؛چي عملي بڼه يي تاريخ ثبت کړې اوتودې برخې يي اوس هم په سترګو، ګورو. په دې برخه کي ترنن پورې د پاملرنې وړمقالي اوکتابونه ليکل شوي دي. دمقالوشميريې له سل ګونوتير او زرګونوته رسيږي، خو د کتابون شمير به يي لس ګونواويا هم سل ګونوته ورسيږي.
زه داسي دعوا نه لرم چي د ښځوپه باب ټولي ليکل شوې مقالي اوکتابونه مالوستي دي، خو دا ويلای شم چي هغه کتابونه چي د افغانستان د ښځوپه باب ليکل شوي دي او زما له نظره تير شوي دي، دغه يي ډيرډپاملرني وړ دي:
۱ـ زنان نامدارافغان درتأريخ(ازعهد باستان تا کودتای ثور)،اعظم سيستاني،۲۰۱۰ ـ ناشرافغان جرمن آنلاين،(۴)
۲ـ ملالی جويا اسطوره شجاعت روزګارما، اعظم سيتاني،۲۰۰۹،افغان جرمن آنلاين،(۵)
۳ـ وضع حقوقي زنان افغانستان پس ازکودتای ثور۵۷، اعظم سيستاني، (۲۰۰۲- ۲۰۱۱)، افغان جرمن آنلاين، (۶)
۴ـ چوپتيا خشونت دی، په افغانستان کي د ښځوپرحقوقوتيري ته خاتمه ورکړئ، د۲۰۰۸ کال جولای،(۷)
۵ ـ خاموشي خشونت است، بدرفتاري عليه زنان را درافغانستان خاتمه دهيد، جولای ۲۰۰۸،(۸)
۶ـ خشونت عليه زنان(راه طولاني فراراه تطبيق منع خشونت عليه زنان درافغانستان)، قوس ۱۳۹۰،(۹)
۷ـ عُرف وعنعنات نا پسند وتطبيق قانون منع خشونت عليه زن درافغانستان، دسمبر ۲۰۱۰، (۱۰)
۸ ـ قانون ازدواج(جريده رسمي)، پرله پسي ګڼه:۹۱، اګست ۱۹۷۱.(۱۱)
دغه آثارټول د قدروړدي او د ښځود ژوند او رنځونو بيانونکي دي، خوزما په نظرپه ټولو يادوآثاروکي دمحترم دانشمند، کانديد اکادميسين اعظم سيستاني آثاراونظريات د پاملرني وړ اوعلمي تحقيقي تله يي درنه ده. سيستاني په علمي اوسيتماتيک ډول دښځومسألي ته په پام سره کارپيل کړی، له اسطوره اي دورنه يي کار پيل کړی دی او په، پرله پسی ډول يي ترنن پورې را رسولی دی او اوس هم قلم چلوي او د افغانستان د مظلومو ښځو د دفاع په


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په خير و لولئ

سنګرکي په ميراني او علمي دريځ سره ولاړ دی. دجلا آثارو ترڅنګه يې د ښځو د حقوقو د دفاع په برخه کي په لسګونه مقالي هم ليکلي اوخپري کړې دي.
د افغانستان د ښځوپه باب وروستی کتاب د ښاغلي ډاکترسيدعبدالله کاظم اثر(زنان افغان زيرفشارعنعنه وتجدد) دی چي دامريکا په کلفورنيا کي خپورشوی دی او ښاغلي سيستاني يوه مفصله علمي مقاله ورباني ليکلي ده چي په څلورو برخوکي، په افغان جرمن آنلاين کي خپره شوې ده. (١٢)
وروسته له هغه دا دی د ښاغلي ابراهيم نعيمي اوسنی اثر(اولاګلونه سوځي) دی، چي د اوس له پاره زموږ د بحث وردی. کتاب په پښتوژبه ليکل شوی دی، ليکوال لکه څنګه چي په خپله سريزه کي ويلي دي چي دا د ده لومړنۍ تجربه ده. دا کتاب دليکوال دلمړنی تجربې په توګه خپلې ځانګړتياوی لري، البته له يوڅه نيمګړتياوو سره، چي هيله ده په نوروليکنواو د دې کتاب په راتلونکوچاپونوکي د هغوبرطرفه کولوته پام وکړي؛مګردا د جدي پاملرني وړ ده چي ښاغلی نعيمي په دې کتاب کي د مظلومو افغان ميرمنوحالت په داسي مهارت اوصداقت سره لوستونکوته وړاندي کړی دی چي پر لوستونکي ترخاص تاثير لاندې راوستلی شي اوخپل دا احساس يي په داسي مستند ډول سره بيان کړی دی چي هرلوستونکی به يې ورسره تاييدوي.
ليکوال د ښځوهرانځور چي وړاندې کوي، د نارينه د واک ترسيوري لاندې يې څيري، دلايل يي وايي او د حل د لاري وړانديز يي هم کوي. ليکوال د کتاب په بيلابيلوڅپرکوکي د ښځو د نهضت بيلابيل پړاوونه او د نا روا دودونو په مقابل کي د هغوپرمقاومت خبرې کړې دي.
په کتاب کي د ښځو د نهضت په باب دښاغلي نعيمي نظرداسي راوړل شوی دی چي د ښځو نهضت درې پړاوونه لري:
ـ په اماني دوره کي د ښځونهضت،
ـ د داوود خان دصدارت په دروه کي د ښځونهضت،
ـ د طالبانوپه له منځه تلوسره د کرزي په دوره کي د ښځونهضت،
دا ويش کيدای شي ډيری څيړونکي ورسره ونه مني، خو نعيمي خپل استدلال ورته لري چي په کتاب کي يي لوستونکي مينډلای شي.
د کتاب په پيل کي د ليکوال ډالۍ او د مننې پيغام راغلی دی، بيا د کتاب په باب د څلورتنو د نظرخاوندانو سريزې راوړل شوې دي. لومړنۍ سريزه د کتاب په باب د باري جهاني خبرې دي. د جهاني د خبروپه يوه برخه کي د دې کتاب د ليکلود اړتيا په باب داسي راغلي دي:
« ... په افغانستان کي ښځي دونه ستونزې لري چي د کتاب په ليکلونه، بلکي په کتابخانه يي چاره نه کيږي ...»
باري جهاني د خپلوخبرو په پای کي د يوې مظلومي په زوره واده شوي اونامراې پيغلي د غوښتنواوپوښتنوپه ځواب کي د هغي نامراده ژوند د شعرپه ژبه په هنرمندانه ډول انځورکړی دی، د دې شعرپه يوه برخه کي داسي راغلي دي:

«چي تــه ژړيـــږې زه به هــم ژاړمــه
څوک يې نجلی چي مې په نيمه شپه کې
لـه سترګـو تښـتـوې خـواږه خـوبـونـــه
ستا لـه زګـيـروي مي خـيـالـونه زخمي
ستا لـه زخمـو راته راځي دردونه... »
(١٣، ۴مخ)

ورپسي:
ـ دنجيبه سارا بياباني سريزه،
ـ د ډاکتر رحمت ربي زيرکيارسريزه،
ـ دعاليه راوي اکبرسريزه،
بيا د ليکوال سريزه راوړل شوې ده.

د ليکوال په سريزه کي د کتاب د ليکلويو دليل داسي ښودل شوی دی:

---


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

« ... زما اصلي موخه دا ده چې د هغوهيروشوو ښځوناري او فريادونه د افغان ولس اود نړۍ د هيوادونو ولسونو ترغوږو ورسوم چې په غرونو او لرې سيموکې د پلارواکۍ په منګولو کې ژوند کوي. په دې خبرې هم نه دې چې ښځه هم کيدای شي د نارينه په مخ کې د خبرو حق پيدا کړي ...»(۱۳، ۹مخ)
په دې پسې د کتاب اصل متن پيل کيږي چې لس څپرکي لري. په نهه څپرکو کې د ليکوال څيړنه اوخبرې ځای پرځای شوې دي او په وروستي څپرکي کې د نورو فرهنګيانونظريات راوړل شوي دي.
په ډيری فصلونو کې له تاريخي اسنادو نه په استفادې سره د افغان ميرمنو ژوند اومبارزې، وهل ټکول اوقربانياني يادې شوې دې، چې اکثريت يې په نوروآثاروکې هم په يوه يا بله بڼه راوړل شوي دي؛خو د دې کتاب ليکوال د افغان ښځوپه تړاو په افغانستان کې د ښځو د اوسني حالت په باب ځينې داسې نوي مواد اوخبرې راوړې دي چې د ښځوپه باب په نوررو ليکل شووکتابونوکې نه ترسترګو کيږي. د مثال په ډول د کتاب په نهم فصل(۱۳، ۵۱۳مخ) کې(د حامد کرزي د واک له پيل څخه ترنن پورې)داسې مسأيلوباندې بحث شوی دی چې نوي مواد اواسناد دي.لکه:

ـ په موجوده نظام کې د ښځوبرياوې.
ـ د ديموکراسۍ جنازه که د نوي فصل پيل.
ـ د ښځو زندانونه.
ـ د زندانيانو د مرکولنډيز.
ـ او ...

د کتاب په بيلابيلو څپرکوکي د پام وړ بله برخه دا ده چې ليکوال د کلو اوبانډو د عيني ژوندانه له هغو برخو څخه چې ډيرخلک اوآن ميډيا هم خبر نه دي، ژوندي مثالونه او د سترګو ليدلی حال ثبت او وړاندې کړی دی.لکه:
د کليوالي ښځو د ورځني ژوند څيړنه (۱۳، ۲۵۵مخ)،
د کليوالي ښځو اقتصادي سرچيني(۱۳، ۲۶۱مخ)،
له کورنه د کليوالي ښځو د وتلوشرايط(۱۳، ۲۷۲ مخ)،
د کوچيانوښځوژوند ته يوه کتنه(۱۳، ۲۷۳ مخ)،
ليکوال په خپل نوښت اومصرف د دې موضوع په لټون پسې سفرونه کړي دي، زندانونو ته تللی، زنداني ښځې يې له نږدې ليدلې دي او مرکې يې ورسره کړې دي(۱۳، ۴۰۲مخ)
په لسم يا وروستي څپرکي کې ليکوال د ښځو په باب د نامتوافغان ليکوالو او د نظرخاوندانو نظريات راوړي دي، چې دا هم د ښځو په باب د نظرياتو يوه ښه مجموعه ګڼل کيږي چې په کتاب کې د ليکوال په نوښتونوکې بايد وشميرل شي.
په پای کې دمآخذونو فهرست او د ليکوال بيوګرافي راوړل شوی دي.دا مشهوره اومنل شوی علمي خبره ده:
چيرې چې کار شته، هلته اشتباه هم شته،
نو د دې اصل په منلوسره د ښاغلي نعيمي په کار کې هم تيروتنې خامخا شته، چې ليکوال به يې په راتلونکوليکنوکې اصلاح ته پام کوي. دا دی د ډنمارک د آغوس په ښارکې د دې کتا ب له پاره، د ۲۰۱۳کال د جون په شپاړسمه نيته د مخکاته غونډه په نظرکې نيول شوې ده، هيله ده چې په دې غونډه کې به د کتاب د ليکلو په طرزاومحتوياتوپه باب مفصل بحثونه وشي. د ليکوال د وينا په حواله د دې کتاب ډنمارکي متن باندې هم کار روان دی اوپه نږدې راتلونکي کې به چاپ ته چمتوشي.(۱۳،د مقد مې لسم مخ)
زه په داسې حال کې چې د دې کتاب چاپ اوخپريدل د ښځو د نهضت د پرمختيا اوبرياليتوب له پاره يوګام بولم، ليکوال ته يې په نورولیکنو او شخصي ژوند کې برياليتوبونه غواړم او د زړه له کومې د دغې سترې خوارۍ مبارکي ورته وايم.

مآخذونه:
۱ـ خټک خوشحال خان، د خوشحال خان خټک کليات،د عبدالقيوم زاهد مشواني اوډنه، دانش خپرندويه ټولنه،پيښور،۲۰۰۵ز کال.
۲ـ خټک خوشخال خان،دستارنامه، پښتواکاديمي پيښور، ۱۹۹۱ ز کال.
۳ـ محمد هوتک بن داوود، پټه خزانه ( تذکرة الشعرا )،د پوهني وزارت د دارالتأليف رياست، دويم چاپ،۱۳۳۹هجری شمسي کال.
٤- http://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/sistani_zanane_namdare_afghan.pdf


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په خیر و لولئ

٥- http://www.afghan-german.net/Tahlilha/PDF_sistani_malalai_Joya_zanemobarez.pdf
٦- http://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha/PDF_/a_sistani_waziat_zanzn_bad_az_copdettay_saor_K٢١.pdf
٧-http://www.afghan-german.net/upload/elmi_biblithek/afg_badraftari_alaih_zanan_pashto.pdf
٨-http://www.afghan-german.net/upload/elmi_biblithek/afg_badraftari_alaih_zanan_dari.pdf
٩-http://www.afghan-german.net/upload/elmi_biblithek/report_khoshonat_alaihzanan_dari.pdf
١٠-http://www.afghan-german.net/upload/elmi_biblithek/afg_sonathaye_mozer_afghani_dari.pdf
١١-http://www.afghan-german.net/upload/elmi_biblithek/qavanin_afg_١٩٧١_qanoon_ezdevaj_dari.pdf
١٢-http://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/sistani_nazaray_bar_ketabe_zanane_afghan.pdf

١٣- نعيمي، محمدابراهيم، اولاګلونه سوځي، دانش خپرندويه ټولنه، پېښور،٢٠١٢ ز کال.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ